# مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ، إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ

له عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: موږ د اوښانو پالنه پر غاړه درلوده، نو زما نوبت راغی، ما ماښام مهال اوښان د پیولو لپاره خوشي کړل، هلته مې رسول الله صلی الله علیه وسلم پداسې کې ولید چې خلکو ته يې خبرې کولې، نو د هغه دا خبرې مې واورېدې: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ، إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» قَالَ فَقُلْتُ: مَا أَجْوَدَ هَذِهِ، فَإِذَا قَائِلٌ بَيْنَ يَدَيَّ يَقُولُ: الَّتِي قَبْلَهَا أَجْوَدُ، فَنَظَرْتُ فَإِذَا عُمَرُ قَالَ: إِنِّي قَدْ رَأَيْتُكَ جِئْتَ آنِفًا، قَالَ: «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ - أَوْ فَيُسْبِغُ - الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ». هېڅ مسلمان نشته - چې په ښه توګه اودس وکړي، بيا ولاړ شي او د زړه له تله او د اندامونو په عاجز سره دوه رکعته لمونځ وکړي- مګر دا چې جنت ورته ضامن دی» وايي نو ما وويل چې: دا څومره ښه کار دی، ګورم چې زما مخې ته یو بل تن وويل: له دې نه هغه مخکينی يې ډېر ښه و، نو ومې ليدل، ګورم چې عمر دی، ويې ويل: ما ولېدل چې ته لږ مخکې راغلې، ويې ويل: «له تاسو څخه چې هر څوک په بشپړ ډول اودس وکړي او بيا ووايي: (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ) يعني: زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله بنده او د هغه رسول دی، نو د جنت اته دروازې به ورته پرانستل شي او له هرې يوې چې وغواړي ننوتلی شي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته د خبرو پر مهال دوه لوی فضيلتونه بيان کړل: لومړی دا چې: چا په سمه توګه اودس وکړ او په مسنونه طريقه يې بشپړ کړ، هر غړي ته يې خپله اندازه د اوبو حق ورکړ او بيا يې وويل: أشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمدًا عبد الله ورسوله؛ يعني: زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چې محمد د الله بنده او د هغه رسول دی، مګر دا چې د جنت اته دروازې به ورته خلاصې شي او له هرې دروازې چې وغواړي ترې به ورننوځي. دويم: چا چې دا بشپړ اودس وکړ او د دې اودس پسې يې د زړه له اخلاصه په عاجز سره دوه رکعته لمونځ وکړ؛ خپل مخ او د بدن ټول غړي يې الله ته په سجده کړل، نو جنت ورته واجب شو.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8388